بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

يکشنبه ۱۳ ربيع الثاني ۱۴۳۹هـ — ۲۰۱۷-۱۲-۳۱م — ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰۲

**مطبوعاتي اعلاميه**

## د کورنيو عوايدو زياتوالی "لاسته راوړنه" نه؛ بلکې د افغانستان پر مظلومو خلکو د پانګوالي نظام ظلم دی

د افغانستان د ماليې وزير اعلان وکړ، چې په روان کال کې د دغه هېواد کورني عوايد کابو ۱۷۰ميلیارده افغانيو ته رسېدلي. دا شمېره په تېرو ۱۶ کلونو کې بې‌ساري ده او د افغانستان دولت لپاره د نړيوالو بنسټونو له ټاکلې موخې څخه لوړه ده. د ماليې وزارت دا موضوع د افغانستان دولت لپاره يوه "لاسته راوړنه" بللې ده.

موږ د دولت د عوايدو زياتوالی "لاسته راوړنه" نه؛ بلکې د خلکو د جيبونو او دسترخوان لوټول بولو؛ ځکه دا شمېره د واقعي اقتصادي ودې، د ريښتينو بنسټونو د رامنځ ته کولو، د توليداتو له زياتوالي او د خلکو د ژوند د کچې د لوړوالي او سوکالۍ له امله په لاس نه ده راغلې. برعکس دا عوايد زياتره د ګمرکي محصولاتو، پر شرکتونو او صنفي اتحاديو باندې د مالياتو د وضع کولو له لارې راټول شوي، چې دروند بار يې بېوزله خلک پورته کوي.

د افغانستان دولت تېر کال د پيسو د نړيوال صندوق او نړيوال بانک په توصيه نوې مالياتي کڅوړه لکه: د موبايل پر کارتونو ۱۰٪ ماليه، پر تجارتي معاملاتو دوه چنده ماليه، د هوايي حق العبور د فيس زياتوالی او پر ځينو ګمرکي محصولاتو د تعرفو زياتوالی، چې لومړنۍ بشري اړتياوې پوره کوي، وضع کړې ده. دا حالت د تورم د رامنځته کېدو، د پانګونې د کچې د ټيټېدو او د بېکارۍ او فقر د زياتېدو لامل کېږي، چې ويجاړوونکې اغېزې يې د خلکو د ژوند په ټولو برخو کې محسوسې دي.

د عوايدو دا ډول شمېرې که هر څومره لوړې شي، يوازې يو کميت او د اعدادو بې ارزښته لړۍ ده، چې زياتوالی يې يوازې له نړيوالو بنسټونو څخه د دولت د کريډېټ اخيستو لامل کېږي، د خلکو پر ژوند هېڅ مثبت اغېز نه لري او دا د خلکو له جېبونو او دسترخوان څخه يو ډول غلا ده.

**د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**